# په نړۍ کښې د لنډې قیصې ابتدا او ارتقا

د نولسمي پیړۍ له مخه لنډه قیصه عموماً د جلا ادبي صنف په توګه نه پیژندل کیده که څه هم په دې معنا کښې دا یو ځانګړۍ عصري صنف ښکاري ،حقیقت کښې لنډه قیصه دومره زړه ده لکه څومره چې ژبه زړه ده . د تاریخ په اوږدو کښې انسان مختلف ډول لنډ داستانونه اساطیر،لنډې تاریخي قیصې څخه خوند اخیستی له دې څخه هیڅ یوه لنډه قیصه نه ده را منځ ته شوې ځکه چې دا د نولسمي پیړۍ راهیسي تعریف شوې ده مګر د دوی د چار چاپېر لویه برخه جوړوي لکه کوم ځای څخه چې ننۍ قیصه راپورته کیږي
.

د لنډې قیصې تحویل لومړی د انسانانو د لیکلو له مخه پیل شوی دی د قیصې په جوړولو او یاد ساتلو کښې د مرستې د پاره قیصه کونکی اکثر منظوم یا په شاعرۍ تکیه کوي په نړۍ کښې ډېر زاړه داستانونه لکه د بابیل پخوانۍ قیصه،ګېلګامېش رزمیه قیصه دغه داستانونه د دویمي پېړۍ په جریان کښې په میخي خط کښې لیکل شوې دي
.

د مصر موجود لومړۍ قیصه په پرتله کولو نېټه کښې د پاپا پروس باندي ترکیب شوې ده . (پاپاپروس)دا یو ډول مصري بوټی دی چې اوږدې پاڼي لري دا بوټی تل په اوبو کښې سین کیږي پخواني مصریانو څخه داسي معلومیږي چې خپل داستانونه یې په پراخه کچه په نثر کښې لیکلي دي .ماته بېړۍ یا ډوبه بېړۍ د مصر د پخوانیو

قيصو څخه يوه قيصه ده چې په دوه زره ميلادي پېړۍ کښي ليکل شوې ده .

يونانيانو د لنډي قيصې او هنر ته پراخه برخه ورکړه د دې ډيري قيصې د اسوپ افسانې په توګه راټولي شوې دي . په قيه ايز ادب کښي د ډاکټر محمد اعظم اعظم نه علاوه د پراخې مطالعې څښتن ډاکټر شېر زمان طايزی يادېږي د هغه د وينا مطابق د مصر د زړو قيصو نه پس چې د لقمان حکيم قيصې ورته وئيلې شي دا قيصې هم په قبل از مسيح کښي مشهوري دي . داقيصې وروسته په ګڼو ژبو کښې ترجمه شوې او په غونډه نړۍ کښي خورې شوې .د لقمان حکيم د قيصو اثرات يونانيانو خپل کړل او د هومر قيصې په يونان کښي مشهوره شوې چې وروسته په ادبي دنيا کښي د هومر قيصې په نامه يې شهرت وموندلو . د دې سره سره د مذهبي او الهامي قيصو تذکره هم لازمه ده . په دې لړ کښي لومړی د ويدونو قيصې اهميت لري دغسي د تورات،زبور ،انجيل په متنونو کښي د عبرت له پاره مختلفي قيصې راغلې دي او بيا د قرآن پاک ريښتيني قيصې هم د عبرت او درس د پاره يادي شوې دي . دغه قيصې چې ,,قصص القرآن,, په نامه په مختلفو ژبو کښي ترجمه شوې دي . د انسان د اخلاقي او انساني معيار د اوچتولو او درستولو په لړ کښي لوی کردار لوبوي .د دې نه پس چې هر کله قيصې په نوي شکل کښي سر ښکاره کړی دی نو ,,الف ليلی,, په صورت کښي څرګنده شوې دي . د ,,الف ليلی,, لغوي مفهوم دی زر شپې .د دې قيصو قدامت تقريباً اوه سوه کاله وړاندې دی . دا قيصه عموماً د جادو، پيرانيانو،شاپيريانو وغيره مافوق الفطرت عناصرو باندي اډانه لري.

تقریباً په هره قیصه کښي د باچا او وزیر کردار سره سره د کوه قاف د غرونو دېوانونو او شاپېریانو ذکر هم موجود دی . د پښتو په روایتي او ثقافتي قیصو څه خو د لقمان حکیم نه اثر واخیستو او څه دغه ,,الف لیلی,, قیصې په شکل کښي په پښتنه ټولنه کښي مقبولي شوې . د پښتو دغه روایتي قیصې د مختلفو نسلونو سینه په سینه رارواني دي او لا تر اوسه دا راویت ژوندی دی . د قیصې دغه اوږد سفر په مختلفو پړاونو او متخلفو شکلونو چې وروسته یې د جدید صورتونه خپل کړي دي .او د ناول ، افسانې او ډرامې په شکل را څرګند شوي دي .

لیکچر:عبدالصمد جلال زیي